ليکوال: يورگين واګنر
ژباړونکی: شريف بهاند

# د نړيوال کيدو په پېر (عصر) کې
## د امريکا د متحدو ايالتونو امپراتوري

### دوهمه برخه

**د ټول وژنو وسلو له پراختيا څخه مخنيوي او د**
**وار مخکې کولو حق او جګړه د شک پر بنسټ**

د امريکا د متحدو ايالتونو د ملی امنيت د ستراتيژۍ له مخې اوس د دغه هيواد د حکومت د سياست ټاکونکي آر، د ټول وژنو وسلو له پراختيا څخه مخنيوي دئ. د دغه لاسوند د ادعا له مخې، د سپتمبر يوولسمې دا په داګه کړه، چې له سرې جګړې څخه وروسته، دوديزه کړنه د بيلګې په توګه، وېرونه، د محدوديتونو رامنځته کول او د وسلو کنټرول، نور نو اغيزمن نه دي: "د ويروني سياست، چې يوازې پر ګواښ ولاړ وي، د ياغي دولتونو د لارښودو له پاره، چې د ريسک د قبلولو له پاره چمتو دي، هيڅ اغيز نه لري" (NNS., S.15). د همدې فرضيې پر بنسټ ده، چې د بوش دولت ځانته حق ورکوي، (NNS., S.6 ) په راتلونکې کې "مخکې له دې چې ګواښ د متحدو ايالتونو پولو ته ورسيږي، که په يوازې توګه هم وی، وار مخکې او هغه له منځه يوسي او په دې توګه له ځانه څخه د دفاع له حق ګټه ترلاسه کړي".

د وار مخکې کولو له حق څخه د ګټې اخيستنې په اړه، د امريکا د متحدو ايالتونو د حکومت استدلال دا دئ، چې د دوي دغه اقدام د نړدی او د اثبات وړ يرغل په وړاندې عکس العمل او د نړيوالو حقوقو پر بنسټ تر سره کيږي.خو دا ډول استدلال يوه تشه غولونه ده. په واقعيت کې د وار مخکې کولو له حق څخه د ګټې اخيستنې موخه د هغه ګواښ مخنيوي دئ، چې په راتلونکې کې د هغه د رامنځته کيدو اټکل، که څه هم د دا ډول ګواښ د رامنځته کيدو تضمين نه کيږي. خو دغه کړنه له نړيوالو حقوقو څخه ښکاره سرغړونه او د هيوادونو د خپلواکۍ تر پښو لاندې کول دي، چې په راتلونکې کې به د هغو په اړه تصميم په واشنګټن کې نيول کيږي. پر عراق باندې يرغل، داسې بيلګه او تجربه رامنځته کړه، چې د بوش دکترين له نړيوالو حقوقو سره ضديت ښيې، ځکه پدې کې هيڅ شک نه ليدل کيږي، چې هيڅ وخت عراق په متحدو ايالتونو باندې يرغل نه و پلان کړی. ان د متحدو ايالتونو د ځارګري سازمانونو په اند، دا له واقعيت څخه لرې بريښي، چې ياغي دولتونه به د ټولوژنو وسلو په ترلاسه کولو سره هم، متحدو ايالتونو ته کوم ګواښ رامنځته نه کړي. د دا ډول وسلو د ترلاسه کولو له پاره هڅونه، د متحدو ايالتونو د ادعا پر خلاف، پر نورو باندې د يرغل قصد نه، بلکې له ځانه دفاع ده. د واشنګټن پر له پسې ګواښ ته په پاملرنې سره، دغه هيوادونه يوازنې شونتيا په دې کې ويني، چې له ځانه د دفاع په خاطر پوټنسياله ويرونه ترلاسه کړي. متحده ايالتونه غواړي د خپلې هر اړخيزې پوځي مبارزې له لارې په دقيقه توګه د دا ډول ځواک له رامنځته کيدو څخه مخنيوي وکړي. نوځکه د دغه هيواد موخه له يرغلونه څخه مخنيوي نه، بلکې د خپلو پوځي لاسوهنو د شونتياوو تضمينول دي.
متحده ايالتونه ادعا کوي، چې په پام کې نه لري، په ټولو مواردو کې، د وار د مخکې کولو له عملياتو څخه ګټه ترلاسه کړي، خو هيڅ يو داسې مقياس په لاس کې نه شته، چې څه وخت دا ډول اقدام قانونی دئ." که متحده ايالتونه په راتلونکي کې د پوځي لاسوهنې او د وار مخکې کول، د خپلو کړو وړو بنسټ وګرځوي، د ترهګرۍ پټ ګواښ ته په پاملرنې سره دغه سياست به د يوې دايمي پوځي لاسوهنې وضعيت رامنځته کړي، چې دغه حالت به د نړيوال ثبات له پاره د زيات ګواښ لامل شي" (۲۰). هيوادونو ته له خوښې سره سم او له محدوديته پرته پوځي سزا ورکول، په ښکاره توګه د متحدو ايالتونو د برترۍ غوښتنې نه بليدونکې برخه ګڼل کيږي.

د نړۍ د ثبات په له منځه وړلو کې، د متحدو ايالتونو د ملی امنيت د ستراتيژۍ NSS اغيز اوس ځان ثابت کړی دئ. کله چې متحده ايالتونه يوازې د شک په لرلو سره، د پوځي يرغل ګواښ کوي، دغه کړنه نور هيوادونه هم عين کړو وړو ته هڅوي. د بوش دکترين ته په نغوتې سره، د روسيې روښانه ګواښ د ګرجستان په وړاندې د دغې پديدې لومړۍ شومه پايله ده [وه](۲۱). له دې څخه لا نور ګواښمن حالت کيدی شي، د بيلګې په توګه دا وي، چې هند د متحدو ايالتونو د استدلال په څير، په دې دليل چې پاکستان له ترهګرۍ څخه ملاتړ کوي، په دغه هيواد يرغل وکړي. د دا ډول عمل د مخنيوي له پاره، يانې دا چې " يو هيواد په بل هيواد باندې د تيري له پاره وار مخکې کول پلمه نه کړي" د ملی امنيت په ستراتيژۍ کې (NSS., S. 15) لاسوهنه يوازې د يو وزرۍ ځواک حق ګڼل کيږي، چې دا په خپله د متحدو ايالتونو د نوی دکترين بنسټيزه ځانګړتيا جوړوي. له همدې امله د ملی ستراتيژۍ په لاسوند کې په "روښانه امريکايي انترناسيوناليزم" (پر نړۍ باندې واکمنی چلول، ژباړونکی) باندې ټينګار کيږي. دغه ځانګړتيا

بالاخره هلته رسيږي، چي نړيوالي هوکړې يوازې هغه وخت د اعتبار وړ او د عمل په ډګر کي پلي کيدي شي، چي په روښانه توګه د متحدو ايالتونو له ګټو سره سمون ولري. د بوش اداري د "مزاحمو (خنډ رامنځته کونکو)" هوکړو لغو کول په وار وار ثابت کړي دي. دغه له قاره ډک عمل هغه ښکاره بحران دئ، چي هغه ته کړون له زياتي مودي راپيدېخوا تر سترګو کيږي. د دغه کړون لوړ ټکی پر عراق باندي د يرغل په هکله د ملګرو ملتونو د ماموريت په خبرو اترو کي په روښانه توګه وليدل شو. په دې توګه متحده ايالتونه ځانته اجازه ورکوي، د خپلو اقتصادي ګټو د تأمين او همدارنګه د هغو احتمالي ګواښونو، چي د دولتونو او يا دولتونو ته ورته سازمانونو له خوا د متحدو ايالتونو تر مشرۍ لاندې واکمن پانګه وال نظام ته رامنځته کيږي، په وړاندي مبارزه او له پوځي ځواک څخه کار واخلي.

**مک دونالدز او مک دونال دوګلاس**
**نړيوال کيدل، د آزادي غوښتني دکترين او ليبرال امپرياليزم**

د نوی ليبراليزم تر لوا لاندي د پانګوالی نظام پراختيا، چي د نړيوال کيدو نوم ور باندي اينبودل شوی دئ، متحده ايالتونه هغه د خپلو غوښتنو د ترلاسه کولو له پاره تر ټولو مهمه وسيله بولی. متحده ايالتونه نه يوازې د دغه بهير ترټولو مهم او خوځنده ځواک، بلکي تر نورو هيوادونو زيات ګټه ترلاسه کونکی هم دئ [٢٢]. ولفوويڅ د متحدو ايالتونو د هژموني او د نړيوال کيدو د اړيکو تر منځه هيڅ ډول شک نه ويني: " له سړي جګړي څخه وروسته د نړۍ تر ټولو مهم اقتصادي – ټولنيز کړون زياتره د نړيوال کيدو په نامه ياد او د نړيوال سياست نړيوال نظم، په ټوليزه توګه يو قطبي توضيح کيږي. دغه دواړه اصطلاح کيدی شي د يوې واحدي پديدې بيلا بيل بيان وي. ځکه نړيوال کيدل [...] په ځانګړي توګه د متحدو ايالتونو د اقتصادي او سياسي برترۍ بيانول دي" [٢٣]. يا د کسينجر د وينا له مخي: نړيوال کيدل يوازې "پر نړۍ باندې د متحدو ايالتونو د واکمنی يوه بله اصطلاح ده" [٢٤].

نو ځکه د متحدو ايالتونو د ملی امنيت په ستراتيژۍ کي زياتره هغه جملي، چي د ديموکراتيکو ارزښتونو او د بشر د حقوقو په اړه ليکل شوي دي، تر ټولو دمخه د نورو د غولولو له پاره دي. جورج بوش د همدې لاسوند (د ملی امنيت د ستراتيژۍ) په سرليک کي ليکي (NSS., S. 1) : " د ملی بري له پاره يوازيني تل پاتي موډل آزادي، ولسواکي او د خصوصي ملکيت شتوالی دئ". په يو څه ځير سره روښانه کيږي، چي په دې توګه هاند و هڅه کيږي، څو د نوي ليبرال نظام له قار څخه ډکه پراختيا، څه نا څه د ديموکراتيکو ارزښتونو په بڼه وړاندي کړي. د همدې لاسوند په ١٨ مخ کي راغلي: مخکې له دې چي " د آزادي سوداګرۍ طرحه د اقتصاد په بنسټيزې ستني وواړي، يو اخلاقي آر کڼل کيده" او له هغه وروسته د همدې لاسوند په يوويشتم مخ کي غوښتل کيږي (NSS., S. 21): "ټولني بايد د سوداګرۍ او پانګي اچوني پر مخ پرانيستل شي. [...] آزاد بازار او آزاده سوداګري زموږ د ملی امنيت د ستراتيژۍ بنسټيز وړاندې توب (تقدم) کڼل کيږي. تاريخ بايد د نوي ليبرال موډل په پلي کولو سره [که هغه له قار ډک هم وي] پايته ورسيږي. داسی برېښي، يوازې يو حقيقت، چي هغه هم د متحدو ايالتونو کڼل کيږي، شته دئ. نور الترناتيفي سياسي او ټولنيز سازمانونه، نه يوازې دا چي له اخلاقي پلوه ناسم کڼل کيږي، بلکي ادعا کيږي، چي هغه د لا پرمختک له پاره ناوړه بنسټ جوړوي. [...] د ليبرال مذهب ځانګړی تفسير، چي ولسمشر وړاندې کوي، هغه صليبي جګړي دي. د هغه په اند، د ليبراليزم پراختيا او له هغه څخه دفاع اخلاقي مکليفيت دئ او هيڅ پوله نه پيژني. [...] ټولنو او دولتونو ته دا حق نه دی ور په برخه، چي د ليبراليزم له منلو څخه سرغړونه وکړي. په حقيقت کي دولتونه دي ته اړ دي، چي نه يوازې په خپله د ليبراليزم اصول ومني، بلکي دوي بايد خپل ګاونډيان هم د هغو منلو ته اړ کړي" [٢٥].

د دې له پاره چي د"سوله ييزو ديموکراتيکو" سيمو د پراختيا دنده په يوه پوځي ماموريت بدله شي، په دې وروستيو وختونو کي د نوي امپرياليزم پراختيا د متحدو ايالتونو د ملی امنيت د ګټو تر حده پوري رسول شوی ده. ويل کيږي، چي زور واکه او خطا کار دولتونه د ترهګرۍ د پراختيا مسولين کڼل کيږي. د فارين افير د مجلي په اند د حل لاره روښانه ده: " له سودان نه نيولی تر افغانستان پوري او له سيراليون نه بيا تر سوماليا پوري، ځنګه چي په تيرو وختونو کي د ځواک د خلا له امله ستر ځواکونه په دې سيمو کي له ګواښ سره مخامخ کيدل، د هغه له پاره سمدلاسه ځواب شته دئ او هغه امپرياليزم دئ" [٢٦]. يوازې هغه وخت چي دغه سيمي تر پوځي کنترول لاندې راشي او د نوي امپرياليزم له خيرغوښتونو [ښيګڼو] څخه ګټه ترلاسه کړي، کيدی شي هغه وخت د متحدو ايالتونو ګټې تأمين شي [٢٧]. په تيره بيا د ٢٠٠١ کال د سپتمبر د يوولسمي له پيښي وروسته د امنيتي چاروکو په کړيو کي د "آزادي د دکترين" په هکله خبري اترې ترسره کيږي. دوي " د مخالفو ځواکونو د ساري په توګه د افرادو، غورځنګونو او يا رژيمونو د له منځه وړو غوښتنه کوي. [...] او بالاخره بايد هغه حکومتونه، چي د خپل هيواد د اوسيدونکو آزادي ته، لکه د متحدو ايالتونو په څير ارزښت ورکوي او له هغه څخه ساتنه کوي، ثبات ومومي" [٢٨]. د " آزادي د دکترين"، په تيره د منځني ختيځ له پاره د متحدو ايالتونو د پلانونو، پايلي به وروسته وڅيړل شي .

د "انساندوستانه پوځي لاسوهني" اصلاح شوې طرحه، چي اصلاً د تيرې پيړۍ د وروستي لسيزې له پاره وه، جګړې ته د يوه بل لامل لاره هواروي. د هغې پر بنسټ دا شونتيا رامنځته کيږي، چي هيوادونه له ځواک څخه په ګټې

اخيستني سره، په هغه نړيوال نظام کې، چې د متحدو ايالتونو د ګټو ساتندوی دئ، ضميمه کړی. دغه کړنه په حقيقت کې د نوي ليبراليزم د منفی اغيز او د کليدي سيمو [د طبيعي زيرمو له پلوه شتمني او ستراتيژيکي سيمې: ژباړونکی] د کنترول د سياست په وړاندې يو عکس العمل دئ. په دې توګه له دغه سياست څخه د رامنځته شويو ستونزو، د بيلګې په توګه ترهګرۍ او شخړې او همدارنګه د ټولنيزو خدماتو د له منځه وړلو له امله د کړکيچ رامنځته کيدل، دي چې حل يې د اړوندو حکومتونو په غاړه ايښودل شوې او که نه د جګړې د لامَل په توګه ارزول کيږي.

متحدو ايالتونو د نوي ليبراليستي نظام د تضمين او پراختيا سر بيره، چې پر پوځي عملياتو ولاړ دئ، د پاتې لويديځې نړۍ د پانګوالي د ګټو د خدماتي چارو دندې هم په غاړه اخيستې دي. د همدې لامَل پر بنسټ، د "ليبرال امپرياليزم" نظريې په اروپا کې اغيزمن پلويان موندلي، چې ښه بيلګه يې رابرت کوپر Robert Cooper، د بريتانيا د لومړی وزير تونی بلير ډير نږدی سلاکار او همدارنګه د المان د چاپيريال ساتنې (شنو) د ګوند لوړ پوړی سياستوال، رالف فوکس Ralf Fücks دي [۲۹]. ځکه د متحدو ايالتونو د پوځ دنده دا ده، چې د ټول نظام ثبات تضمين او که اړتيا وليدل شي، د نړيوال پانګه وال نظام ګواښمن عناصر له منځه يوسي. توماس فريدمن Thomas Friedman، د نيويارک تايمز د بهرني سياست د ځانګړې مشر او د متحدو ايالتونو د بهرنيو چارو د پخوانۍ وزيرې مادلين البرايت Madeline Albrightسلاکار د متحدو ايالتونو د هژمونۍ سياست د دواړو بنسټيزو اصولو پر بنسټ، دې ټکی ته نغوته کوي، چې نړيوال کيدل " د متحدو ايالتونو په ځواک او د هغه په چمتوالي پورې تړتيا لري، چې له دغو دواړو څخه د هغو ځواکونو (له عراق څخه نيولي بيا تر شمالی کوريا پورې) په وړاندې کار واخيستل شي، چې نړيوال نظام له ګواښ سره مخامخ کوي. د بازار نا پيژندل شوی (نامرئی) لاس نه شي کولی، پرته له نا پيژندل شوي سوګ څخه کار وکړي. مک دونالدز (د متحدو ايالتونو د همبرګر جوړولو شرکت) نه شي کولي، پرته له مک دونال دوګلاس، چې د متحدو ايالتونو د پوځ له پاره اف ۱۵ الوتکې جوړوي، پراختيا ومومي. دغه ناپيژندل شوی سوګ، چې د "سيليکون ولی" د تکنالوژۍ د غوړيدو لامَل دئ، د متحدو ايالتونو پلي، هوايي او سمندري ځواکونه دي" [۳۰].

د جورج بوش اداري دغه نظر په ښکاره توګه منلی دئ. د سمندري جګړو د پوهنځی استاد او د ۲۰۰۱کال د سپتمبر له مياشتې راپديخوا د متحدو ايالتونو د دفاع د وزير رامسفلډ سلاکار پوهاند توماس بارنت Thomas Barnett، د عراق د جګړې په لوری ورکوی ځانګړتيا تينګار کوي: " کله چې متحدو ايالتونو يو ځل بيا د فارس د خليج په سيمه کې جګړه پيل کړه، يو بل تاريخي پړاو، ياني هغه پړاو پيل شو، چې متحده ايالتونه به د نړيوال کيدلو په ترڅ کې په واقعي توګه ستراتيژيک امنيت ترلاسه کړي". د بارنت په وينا، هغه هيوادونه، چې د نوي ليبراليزم له نړيوال نظام سره سمون نه لري، په دې جګړې سره به ورته روښانه شي، چې متحده ايالتونه په پام کې نه لري، دا ډول وضعه وزغمي.
" د متحدو ايالتونو د پوځ د بهرنيو عملياتو بل پړاو بايد چيرته تر سره شي؟ د هغو بيلګو په ارزونې سره، چې له سړې جګړې وروسته ترلاسه شوې دي، کيدای شي دې پوښتنې ته په ساده توګه ځواب ورکړل شي. په سوری کې. [...] که يو هيواد د نړيوال کيدو مخالف لوری ونيسي او يا د نړيوال کيدو ډير پرمختګونه رد کړی، خورا زيات شوني برېښي، چې متحده ايالتونه يو وخت نه يو وخت، خپل پوځونه هلته ور واستوي. برعکس که يو هيواد په معقوله توګه د نړيوال کيدو له بهير سره سم حرکت کوي، موږ دې ته اړ نه يو، چې د نظم د ټينګولو او يا د ګواښ د له منځه وړو له پاره خپل ځواکونه هلته ورولیږو" [۳۱].
که څه هم د عراق په وړاندې له جګړې څخه د متحدو ايالتونو موخې په مستقيمه توګه تيل و، خو د دغه هيواد بنسټيزه انګيزه او يرغليز سياست يوازې په امپراتورانه ستراتيژۍ کې، چې مخکې ور باندې رڼا واچول شوه، توضيح کيدی شي.

پای

## اخځ:

Claudia Haydt/ Tobias Pflüger/ Jürgen Wagner:
Globalisierung und Krieg, Hamburg, 2003

1- Mr. X: The Sources of Soviet Conduct, in: Foreign Affairs , July 1947, S. 566-582
2- Zit. nach Pitt, William Rivers/Ritter, Scott: Krieg gegen den Irak, Köln 2002, S. 25
3- The National Security of the United States of America, The White House, 17. 9. 02

4- Rudolf, Peter: Die US und die transatlantischen Beziehungen nach dem 11.9., in: APuZ, 25/02, S. 7-13, S. 8
5- Schwarz, Klaus-Dieter: Amerikas Mission, SWP- Aktuell, Oktober 2002, S. 1
6- Donelly, Thomas: The Underpinnings of the Bush Doctrine, AEl, 1. 2. 03
7- Rilling, Rainer: "American Empire" als Wille und Vorstellung, RLS Standpunkte, 9/02, S. 4
8- US Imperial Ambitions and Iraq, in: Monthly Review Editorial, December, 2002
9- Tabb, William K.: The Face of Empire, in: Monthly Review, November, 2002
10- Krauthammer, Charles: The Unipolar Moment, in: Foreign Affairs, Winter 1990/91, S. 23-333
11- Vgl. U. a. Boot, Max: The Savage Wars of Peace, New York 2002
12- Vgl. Golub, Phillip S.: Westward the course of Empire, in: Le Monde Diplomatique (English edition), September 2002; Eakin, Emily: " It takes an empire", say several U. S. thinkers, International Herald Tribune, 2. 4. 02
13- Vertreter dieser Auffassung gibt es viele. Für den akademischen Bereich vgl. Wohlforth, William C.: The Stability of a Unipolar World, in: International Security, Vol. 24, No. 1 (Summer 1999), S. 5-41; Für eine Analyse und Kritik der Grundlagen der US-Hegemonialpolitik vgl. Wagner, Jürgen: Das ewige Imperium, Hamburg 2002
14- Khalilzad ist Mitglied im nationalen Sicherheitsrat, war kurzzeitig US- Afghanistan-Sonderbeauftragter und anschließend mit der Formierung der irakischen Opposition betraut. Libby ist Cheneys Stabschef und gilt als dessen wichtigster Geostratege.

خليل زاد د امريکا د متحدو ايالتونو د ملی امنيت د شورا غړی دئ. نوموړي څو موده مخکې په افغانستان کې د دغه هيواد د ځانګړی استازی په توګه دنده تر سره کوله. نوموړی وروسته بيا د عراق د دولت د مخالفينو د تنظيمولو دنده ترلاسه کړه. ليبی د ديک چينی د دفتر مشر او د هغه له تر ټولو مهمو ستراتيژيستانو څخه ګڼل کيږي.

15- „ No Rivals" –Plan: Den Aufstieg konkurrierender Mächte in Europa und Asien verhindern: Auszüge aus dem neuen Leitlinien-Entwurf des Pentagon, in: Blätter für deutsche und internationale Politik, 4 (1992).
16- Rebuiding America`s Defenses. A Report of The Project fort the New American Century, September 2000, S. II.
17- Dieser Satz wurde kurz vor der Veröffentlichung noch aus dem Dokument entfernt. Vgl. Press Briefing by Ari Fleischer, Office of the Press Secretary, 20. 9. 02
18- Nassauer, Otfried: Eine neue militärische Aufteilung der Welt, Frankfurter Rundschau, 15. 7. 02
19- Ebenda.
20-Kamp, Karl-Heinz: The National Security Strategy, Konrad Adenauer Stiftung, 25. 9. 02
21- Vgl. Baker, Peter: Russia sees trade-off with Bush on Georgia, IHT, 14. 15. 02
22- Vgl. Friedman, Thomas L.: Globalisierung verstehen, München 2000, S. 454
23- Wolfowitz, William (eds.): Present dangers, San Fransisco 2000, S. 307-336, 316f
24- Zit. Nach Biermann, Werner/Klönne, Arno: Globale Spiel: Imperialismus heute – das letzte Stadium des Kapitalismus, Köln 2001, S. 25
25- Rhodes, Edward: Onward, Liberal Soldiers?, Columbia international Affairs online, December 2002, S. 8
26- Mallaby, Sebastian: The Reluctant Imperialist: Terrorism, Failed States and the Case for American Empire, in: Foreign Affairs, March/April 2002, S. 2-7, S. 2, 6
27- Vgl. Gadddis, John L.: A Grand Strategy, in: Foreign Policy, Novemer/December 2002, S. 50-57
28- McFaul, Michael: The Liberty Doctrine, in: Policy Review, April-May 2002

29- Z. B. der engste Berater Tony Blairs, Cooper, aber auch der Grüne Politiker Fücks. Vgl. Cooper, Robert: The new liberal imperialism, The Observer, 7. 4. 02; Fücks, Ralf: „ Ohne uns“ reicht nicht, Taz, 3. 1. 03
30- Friedman 2000, a. a. O., S. 570f
31- Barnett, Thomas P. M.: Die neue Weltkarte des Pentagon, in: Blätter für deutsche und internationale Politik, 5/2003, S. 554-564